دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

الهی فرمان

او عبادت کوئ تاسی د الله او مه شریکوئ تاسی له ده سره هیڅ شی! او (نیکي کوئ!) له مور او پلار سره په نیکی کولو او (نیکی کوئ!) له خاوندانو د خپلوی سره او یتیمانو سره او له مسکینانو سره او له همسایه ګانو سره چې نژدې وي تاسو ته او (نیکی کوئ!) له هغه همسایه سره چې له تاسو نه لیرې وي او (نیکی کوئ!) له هغه ملګری سره چې ستاسو په څنګ کې وي او (نیکی کوئ!) له مسافر سره او له هغو وینځو، مریو چې ستاسې په ملکیت کې دي بې شکه الله لویی کوونکی او فخر کوونکی خلک نه خوښوي. (النساء، ٣٦)

نبوي ارشاد

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:
له بدګمانی څخه خانونه وساتئ ځکه چې کومه خبره د بدګماني په صورت کې وشي هغه تر ټولو زیات درواغ وي، د بل چا د عیبونو پسې مه ګرځئ او نه هم د چا جاسوسئ وکړئ، پخپلو کې یو د بل په خلاف دلالی مه کوئ، له یو بل سره بغض او د یو بل پسې دهغه په غیاب کې خبرې مه کوئ. (بخاری، مسلم)

شهادت دویم کال، ٢٩ مه ګڼه، چهارشنبه ١٣٨٩ هـ ل د زمری ١٣ مه د١٤٣١ هـ ق د شعبان المعظم ٢٣ مه د٢٠١٠ م د آګست۴ مه

د ولسمشر سلاکار وزیر وحیدالله سباوون په یوه بمي برید کې ټپي شو

آزادي راډیو:
د دوشنبې په ورځ غرمه څه باندې یوه بجه د جلال اباد ښار په جنوبي څنډه کې د ولسمشر حامد کرزي د سلاکار وزیر وحیدالله سباوون په موټر بمي چاودنه کې د ده په ګډون ٨ تنه زخمیان شول.
د ننګرهار د ګارنیزون مشر ډګر وال عصمت الله ابراهیم خېل رسنیو ته وویل: چاودېدونکي توکي په یوه ریکشا موټر کې ځای پر ځای شوي ول، چې د سباوون د موټر په را رسېدو چاودنه رامنځته شوه او ده سره په موټر کې د خپلې کورنۍ څلور تنه نور وګړي د درې تنو ملکیانو په ګډون ټپیان شوي. خو ځینې ټپیان شدید دي، په سیمه کې د شفیع الله په نامه یو تن عیني شاهد چې د چاودنې ځای ته څېرمه یې کور و، وویل: کله مې چې درز واورېده، له خپل ځایه پورته شوم بېرون ومې لیدل چې له موټره ټپیان راوېستل کېږي یو تن په لاره تېردونکی بایسکل والا هم زخمي و. ده وویل: له موټر نه پنځه تنه زخمیان را ووېستل شول.
یو بل ماشوم چې پېښه یې په خپلو سترګو لیدلې وه وویل: زه په مسجد

پاتی ٤ مخ

اوباما: که پوی شم چې موږ خوندي یو، سملاسي له افغانستانه عسکر وباسم

تاند ویب پاڼه:
ولسمشر بارک اوباما په یوه تلویزیوني مرکه کې په ډاګه کړې چې که خپل هیواد یې خوندي وي له افغانستانه عسکر وباسي.
له یوۀ تلویزیون سره په مرکه کې بارک اوباما وویل پوهیږي چې افغانستان ته لویدیځ ډوله دیموکراسي نه شي راوستلی.
د نړۍ د یوازینی زبر ځواک ولسمشر وویل په افغانستان کې یې اوس اهداف ډېر ساده او اسانه ټاکلي دي.
اوباما وویل که په سیمه کې ترهګر له فعالیته وغورځېږي، روزنیز کمپونه یې وتړل شي او د امریکا خاورې ته نور ورڅخه خطر نه وي نو دا به د دوی بری او د هدف ترلاسه کول وي.
د سیاسي چارو شننونکي وایي بارک اوباما په کور دننه انتخاباتو سره مخامخ دی او ډارېږي چې د افغانستان په جګړه کې د عسکرو پرله پسې وژنې به یې له ماتې سره مخامخ کړي.
په همدغه دلیل ولسمشر اوباما غواړي چې امریکایي ولس ته ډاډ ورکړي چې سرتیري یې تش په توره په افغانستان کې نه دي ځای پر

پاتی ٤ مخ

امریکا په افغانستان کې د هدفي وژنو ستراتیژي عملي کوي

تاند ویب پاڼه:
په افغانستان او امریکا کې ځینو نورو عالي رتبه امریکایي چارواکو رسنیو ته ویلي چې دوی تر دې وروسته د تروریزم ضد جګړې د ستراتیژۍ برخای د هدفي وژنو ستراتیژۍ ته وده ورکوي، چې طالبان او د هغوی مشران به په نښه کېږي او په دې ډول به دوی مجبوره شي د خبرو اترو لار غوره کړي.
دا اقدام په داسې حال کې کېږي چې د افغانستان لپاره د امریکا د نوې ستراتیژۍ تر اعلان وروسته په امنیتي برخه کې زیات پرمختګ ونه لیدل شو، د ساړې په توګه په هلمند او کندهار کې پوځي عملیات، چې په هلمند کې زیات تمرکز پر مارجې ولسوالۍ وشو، په سیمه کې پراخ پوځي عملیات وشول، خو نه یوازې طالبان ختم نه شول، بلکې په نورو ځایونو کې یې خپلو بریدونو ته زور ورکړ.
که څه هم افغان دولت ویلي چې د پخلاینې لپاره یې لار اواره کړې، خو کارپوهان وایي دغه نوې ستراتیژي به په دې برخه کې ځینې خنډونه ایجاد کړي. ځینې کسان انتقاد کوي، چې د

پاتی ٤ مخ

نویسنده غربی:
افغانستان طولانی ترین جنگی است که امریکا درگیر آن شده است

خبر گزاري فارس:
یک نویسنده غربی معتقد است، پس از گذشت ۹ سال از اشغالگری امریکا در افغانستان، هنوز قدرت نظامی امریکا نتوانسته طالبان را شکست دهد و این جنگ به طولانی ترین جنگ امریکا تبدیل شده است.
پایگاه اینترنتی "کامن دریمز" (Common Dreams) در مقاله‌ای به قلم "اریک مارگولیس" (Eric Margolis)، کهنه‌سرباز جنگ های امریکا در خاورمیانه تصریح کرد: پس از گذشت ۹ سال از اشغالگری امریکا در افغانستان، هنوز قدرت عظیم نظامي امریکا و هم‌پیمانانش در ناتو نتوانسته است طالبان را شکست دهد و حتی نتوانسته است دولتی مشروع و مردمي در افغانستان بنیاد نهاده و در چنین شرایطي تولید مواد مخدر در افغانستان به حداکثر خود رسیده است.

بقیه در صفحه ۴

له قرآن کریم سره زموږ اړیکې

دریم مخ

آیا ختم جنگ، رفع فساد اداری و رابطه سالاری شعار است یا حقیقت؟

صفحه سوم

منابع سرشار زیر زمینی افغانستان

صفحه دوم

خلص سوانح مولوی رحمت الله جمال یکتن از کاندیدان در پارلمان کشور

مولوی رحمت الله جمال فرزند مرحوم حقداد در سال ۱۳۳۸ هـ ش در ولسوالی شنواری غوربند قریه سردره اشتر شهر دیده به جهان گشود. دورۀ ابتدائیه را در مکتب متوسطه دند غوری ولایت بغلان بدرجه اول نمره گی بپایان رسانید، دورۀ ثانوی را در لیسه زراعت بلخ بدرجه اعلی موفقانه سپری نمود. انستیتوت دیپلوماسی را در چوکات حکومت عبوری مجاهدین در پشاور به سر رسانید، ماستری خویش را در رشته سیاست از اکادمی حیات آباد پشاور بدست آورد. در رشته علوم دینی بعد از اکمال دورۀ حدیث بدرجه دستار فضیلت مولوی در سال ۱۳۷۶ هـ ش از مدرسه امدام العلوم صدر پشاور نایل آمد.
مولوی رحمت الله یکتن از فرزندان رشید و پیشتاز نهضت اسلامی و منحیث یک مجاهد آگاه و ایثارگر در تمام دورۀ جهاد باقیمانده است، جمال بعد از کودتایی رژیم کمونیستی به پشاور مهاجر گردیده و در جبهات کنر، ننگرهار، تگاب در اوایل جهاد در فتح سنگرهای دشمن یکی پی دیگر مردانه رزمیده است، به اثر فعالیتهای جهادی مدت ۹ سال را در زندان پلچرخی سپری نمود.
بالاخره در مقابل یکتن از افسران اردو رژیم کمونیستی در ولایت پروان تبادله و از قید آزاد گردید.
مولوی جمال در دوران جهاد وظایف مختلف را در حزب اسلامی در سطوح مختلف انجام داده است که همۀ آنها را متعهدانه و جسورانه ایفاء نموده است.
جمال از اینکه روشنفکر برخاسته از متن ملت و مردم خود میباشد.
به اثر دعوت و خواست مردمش به خانه ملت میخواهد غرض خدمت به مردم به پارلمان کشور راه یافته و از حقوق حقه مردم مظلوم عالمانه، مدبرانه و در روشنایی شریعت و قانون دفاع نماید. از مردم مجاهد، سربلند و دوراندیش ولایت پروان تقاضا مینماید تا در راه رسیدن به پارلمان با وی همکاری بی شائبه و برادرانه نموده تا بتواند ممثل اراده ملت مسلمان خود در پارلمان آینده کشور باشد. (ومن الله التوفیق)

اشپیگل:
افغانستان به کابوس نیروهای ناتو تبدیل شده است

آلمان رسانه ها:
یک هفته نامه آلماني نوشت که افغانستان به کابوسي برای نظامیان خارجی مستقر در آن تبدیل شده است و نیروهای خارجی باید این کشور را ترک کنند.
"اشپیگل " در گزارشی با عنوان "چرا نیروهای ناتو باید افغانستان را ترک کنند "نوشت، حضور نظامیان غربي در منطقه هندوکش به خودی خود یک شکست محسوب می‌شود و بار دیگر تاکیدی بر پروتوکول افغانستان است. در واقع حضور نیروهای خارجی راه حل مسایل موجود در افغانستان نیست بلکه این نیروها خود به بخشی از مشکلات تبدیل شده‌اند. از طرفي بخت پیروزي نظامي نیز از بین رفته است و اکنون بهترین زمان برای ترک افغانستان است.
این هفته نامه آلمانی نوشت که ازحدود ده سال

بقیه در صفحه ۴

امریکا پر ایران برید ته تیاره شوې ده

تاند ویب پاڼه:
د امریکا د متحد ایالاتو لوی درستیز امیرالبحر مایک مولن وایي، امریکایي خواکونه پر ایران برید ته تیار دي خو اندیښنه دې ته لري چې له دې حملې وروسته به څه غبرګونونه ځرګند شي.
مایک مولن "این بي سي " تلویزیونه ته په مرکې کې وویل، که چیرته اړتیا وه برید به وشي. نوموړي زیاته کړه چې که ایران اتومي وسلې ترلاسه کړي نو دا کار د منلو نه دی.
سره له دې چې د امریکا لوی درستیز پر ایران د حملې د تیاري خبره وکړه دا یې هم وویل چې دا ښه فکر نه دی.
بل لور ته د ایران د سپاه پاسداران انقلاب د سیاسي څانګې مشر ید الله جواني وویل، که چیرته امریکایان حمله وکړي د ټول خلیج امنیت به ګډوډ شي. جواني بیا وویل چې صهیونستان دا وس نه لري چې پر ایران حمله وکړي.

پاتی ٤ مخ

سرلیکنه — د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

راځئ پر خپلو مسؤولیتونو هم نظر واچوو

د یو کار د ترسره کولو لپاره له بل چانه مرسته په هغه صورت کې غوښتې شي چې ددې کار د ترسره کولو توان او قابلیت په چا کې موجود نه وي، مثلاً د یو سړي موټر په لاره کې بند شوې، هغه غواړي چې خپل موټر لدینه راوباسي، مګر په یواځې ځان ددې توان نلري چې هغه دیکه کړي، په دې صورت کې هغه مجبور دی چې له بل چانه د موټر په دیکه کولو کې مرسته وغواړي او په دې توګه خپل موټر راوباسي. د افغانستان وګړي چې نن سبا په کوم حالت کې راګیر دي له دینه د وتلو یواځینی کنجي د افغانانو په لاس کې ده نه د بل چا په لاس کې، که دوی پخپله لدې حالت نه د وتلو او د بندی تالي د خلاصولو لپاره خپله کنجي په کار وانچوي بل هېڅوک نشي کولې چې دغه حالت ته بدلون ور کړي.

پردي هېوادونه ایله دومره کولې شي چې د افغانانو د اقتصادي حالت د ښه کولو، همدغه راز د ژوندانه د نورو بنسټیزو اړتیاو په چمتو کولو کې مالي او تخنیکي مرستې وکړي، مګر په افغانستان کې د امن راوستلو په بهیر کې ترهغه څه نه شي کولې تر څو چې افغانان پخپله د امن د راوستو هوډ او مصمم عزم ونه کړي. د افغانستان مساحت او ددې نفوس په یو داسې حالت کې قرار لري چې دلته د پردیو پر مټ امن راوستل ناشوني او محال دی.

دا یو ور کوټی کلي او قریه نه ده چې بل څوک دې پکې د خپل زور او فشار له لارې امن او امان راولي بلکې افغانستان هغه غرنی پراخ هېواد دی چې ددې د سر کښو ناامنو موجونو په وړاندې هېڅوک بندونه نه شي اچولې بلکې پخپله پکې غرکیږي خو که واقعیت ته وکتل شي نو دا سر کښ موجونه نه پخپله پیدا شویدي او نه هم قدرتي دي چې ختمول یې ګران کار وي بلکې ددې تر شاه پخپله د افغانانو لاس دی او د همدوی د ګناهونو له کبله د بد امنی موجونه د افغانانو ژوند تحدیدوي.

په بنیادي ډول همدا افغانان دي چې د بدامنی اورونه په لاسو کې ګرځوي، د یو بل په خلاف وسله په لاس ګرځي، د یو بل د محوه کولو او له صحنی نه د ویستلو لپاره له هر ډول زور او قدرت نه کار اخلي. زیاتره وګړي د ژوند په هر ډګر او هره صحنه کې له خیانت، ټګي، ظلم، ناانصافي، بډې اخستنې، درواغ او نورو ډول ډول چلونو او مکرونو څخه کار اخلي، د قوم، ژبې، رنګ، نسل او سمتي تعصبونو اور همدوی بل کړی دی. کله چې د یو هېواد زیاتره وګړي د پوهې باوجود پخپل لاس داسې حرامو کارو ته لاسونه اچوي، د یو الله، د یو نبي او د یو دین منونکی سیاسي پروفیسوران او با سواده اشخاص پخپلو لاسو د اختلاف اورونه بلوي، د یو بل پرضد منفي او ویجاړونکی پروپاګندونه کوي نو په نړی کې به داسې کوم انساني ځواک او قوت وي چې ددې په ختمولو کې بریالې شي؟

افغانان دې دا واقعیت ومني چې تر څو پورې موږ پخپله د خپل ددغه ناوړې حالت د بدلولو کلک هوډ ونکړو او خپل سر کش نفس ته لګام وانچوو زموږ په هېواد کې د بدامنی دغه لګیدلې اور به زموږ د هېواد هر څه ستې کوي. لکه څنګه چې یو انسان تر هغې له ساړه نه ځان نشي بچ کولې تر څو چې ګرم کالي او ګرم بوټان په تن نه کړي همداسې د بدامني له دې بوګنوونکی هلاکت نه موږ ترهغې نشو خلاصیدلی تر څو مو چې پخپل لاس دغه بل کړی اور یې پخپله نه وي وژلې. په اوسنیو حالاتو کې د افغانانو اصلي مشکل بهرنی نه بلکې داخلي دی، همدغو داخلي مشکلاتو حالات دېته برابر کړي دي چې بهرني لاسونه هم د افغانانو ګریوانو ته رسیدلي دي، دا حقیقت باید ومنو چې بهرنی لاسونه تر هغې په یو هېواد کې نشي دننه کیدلې تر څو داخلي اختلافات هغوی ته لاره خلاصه نه کړي.

موږ د بهرنیو هېوادو مداخلې خو وینو او هره ورځ ترینه سرونه ټکوو، مګر له بده مرغه دېته پام او پاملرنه نه کوو چې بهرنیو ته د مداخلې لاره چا خلاصه کړی ده؟ هغه کومې خلاګانې او کمزوریانې دي چې بهرنیان ترینه ګټه اوچتوي او زموږ په هېواد کې په مستقیم او غیر مستقیم ډول لاسوهنی کوي؟

دا څومره ځوروونکی خبره ده چې د خپلو کړنو او اعمالو احتساب نه کوو، په خپلو ګناهونو او ناکردو نظر نه اچوو، په خپلو کمیو او نیمګړتیاو فکر نه کوو بلکې هر وخت خپلو ځانو ته د بې ګناهی، او بل چاته د ګناه ګوتې نیسو.

راځئ نور د خود فریبی او ځان غولونی له دې لیونتوبه ووځو او دا څرګند واقعیت د زړه له کومې ومنو چې موږ پخپل ځان دا هرڅه پخپله کړیدي، دا زموږ د مجرمانه غفلت نتیجه ده چې هېواد مو دغه حالت ته رسیدلې دی. که موږ خپل ځانونه اصلاح کړو نو هر څه به اصلاح شي، نه به بهرني ځواکونه پاتی کیږي او نه به هم بهرني لاسوهنی.

راځئ نور خپل سر کش نفسونه مهار کړو له هر ډول ناروا او له ځانه جوړ شوي اختلافاتو څخه لاس په سر شو. د اسلام په سپېڅلي دین کې د اختلافاتو او د خپلو نفساني غوښتنو په وړاندې د تسلیمیدو هیڅ جواز نشته. اسلام د یووالي، امن وورور ګلوي، انصاف او له یو بل سره د همدردی او مینې پیغام ورکوي راځئ موږ له هر څه وړاندې د خپل زړه هغه ټکړه اصلاح کړو چې محمد صلی الله علیه وسلم دهغې په باره کې لارښوونه کړی چې کله د زړه دغه ټکړه اصلاح شي نو ټول انسان ورسره اصلاح کیږي او چې کله هغه فاسده شي نو ټول انسان ورسره فاسدیږي.

راځئ موږ خپل ایمان او عقیده هغې پړاو ته ورسوو چې محمد صلی الله علیه وسلم ورته د سر کش آس په خوله د قاعذی مثال ور کړیدی او فرمایلی دي چې ایمان د سر کش آس په خوله دهغې قاعذې په څېر دی چې په آخور کې ولاړ وي او کله چې هغه له آخور نه د تښتېدو کوښښ کوي نو قاعذه یې نه پریږدي چې له آخور نه دباندې لاړ شي.

راځئ دا واقعیت د سر په ستر ګو ومنو چې په افغانستان کې د امن د راوستلو او د ټولو مشکلاتو او مسائلو د حل یواځینی کنجی زموږ په لاس کې دی، که موږ خپل دغه کنجی په کار واچوو نو له څه شک پرته زموږ ټول داخلي او خارجي مشکلات پخپله له منځه ځي او موږ د یو آزاد، خوشحال، پرمختللي او آرام ژوند له ستر نعمت څخه په ښه ډول برخمن کیدلې شوو، که نه نو الله مکړه لدینه به له بدحالت سره لاس او ګریوان کیږو په دنیا او آخرت کې به ددې ټولو مسؤولیت زموږ په غاړه وي، دا دنیا به مو هم په تاوان کې وي او هغه دنیا کې به هم له دردونکی عذاب سره مخامخ یو.

(وما علینا الا البلاغ)

منابع سرشار زیر زمینی افغانستان

اعزامی

افغانستان کشوری است که در قلب آسیا موقعیت دارد و همین موقعیت حساسی جغرافیایی، باعث گردیده که کشور ما در طول تاریخ مطمع نظر جهان گشایان، استعمارگران، غارتگران و سود جویان قرار بگیرد و هر از چند گاهی به اثر تاخت و تاز متجاوزین و زور گویان صدمات جبران ناپذیری را متحمل شود. اگر مساحت افغانستان امروز را با آریانای کهن و خراسان دیروز مقایسه کنیم، شاید اکنون به اصطلاح از گاو غدود هم باقی نمانده باشد. آریانا سرزمین پهناوری بود که از نشیبی های جیحون و سیحون و اطراف خزر گرفته تا آسیای صغیر و عراق امتداد داشت و اگر این ساحه وسیع را در جغرافیای سیاسی فعلی جهان مورد مطالعه قرار بدهیم، بیشتر از بیست کشور عملاً درین قلمرو احراز موقعیت کرده اند که امروزه با نظام ها و آئین های متعدد اداره می شوند. افغانستان طی قرون گذشته به نسبت داشتن موقعیت خوب و حساس جغرافیایی و ستراتیژیک اش خورد و خمیر شد و امروز از آریانای کبیر و خراسان پهناور سرزمین کوچک و محاط به خشکه ای باقیمانده که از هر نگاه نیازمند کمک کشورهای همسایه بوده و قدرت های طماع و زورگو هنوز هم در صدد این هستند که با گشایش دهلیزهای سیاسی و تجارتی درین خطه، هستی باقیماندهٔ این مرز و بوم را بربایند. چنانچه چندین قرن مردم افغانستان رنج و عذاب موقعیت حساس جغرافیای خود را کشید و در اثر تهاجمات و لشکرکشی های متعدد، بدنه های وسیعی از آب و خاک و معادن خود را از دست داد که هنوز هم ما شاهد جریان و ادامه همین رنج ها و عذاب ها هستیم.

وحیدالله شهرانی وزیر معادن

در این روزها بنابر گزارش رسانه ها که مورد تائید مقامات رسمی دولت نیز قرار گرفته، چنین خبرهای پخش گردیده که گویا افغانستان دارای منابع عظیم زیر زمینی فلزی و نفت و گاز به ارزش یک تریلیون (هزار میلیارد) دالر است. این گزارش ها از آدرس شرکت های زمین شناسی ایالات متحده امریکا و تیم تحقیقاتی پنتاگون اعلان گردید و همزمان با آن مورد تائید و تبصره مقامات رسمی افغانستان نیز قرار گرفت و اولیای امور ما ارزش این منابع را بیشتر از تخمین زمین شناسان امریکایی پیشبینی کرد. چنانچه آقای شهرانی وزیر معادن کشور، چندی قبل طی پرس کنفرانسی، ارزش منابع زیر زمینی کشور را تا حدود سه هزار میلیارد دالر و حتی بالاتر از آن پیشبینی نمود و در همین بحبوحه جناب شهرانی غرض گفتگو با مقام های دولتی، شرکت های استخراج و تفحص و سرمایه گذاران انگلیسی به لندن سفر کرد تا در مورد شروع کار استخراج معدن آهن حاجی گک که قرار است بزودی به داوطلبی گذاشته شود، به سرمایه گذاران و شرکت های ذیعلاقه معلومات بدهد.

جیولوژستان در تلاش کشف معادن

منابع وزارت معادن کشور ما میگویند: افغانستان دارای منابع سرشاری فلزی مانند ذخایر مس، آهن و به ویژه کوبالت، طلا و لیتیوم می باشد و وزارت معادن در نظر دارد که مانند معدن مس عینک، معدن آهن حاجی گک و سایر معادن افغانستان را نیز غرض استخراج به معرض داوطلبی بگذارد.

درین شکی نیست که کشور عزیز ما در قلب آسیا موقعیت دارد و بقول اقبال "فساد و گشاد آسیا" وابسته به فساد و گشاد افغانستان می باشد. اگر در افغانستان نظم و ثبات و امنیت حاکم بود، تمام قاره آسیا آرام و امنیت می باشد و اگر در افغانستان ناامنی، جنگ و بحران حاکم بود، تمام قاره آسیا ناآرام و بحرانی خواهد بود. مصداق عینی این گفته اقبال را ما عملاً طی سه ونیم دهه بحران افغانستان به چشم سر مشاهده کردیم که بحران افغانستان واقعاً موجب گردیده بود که نیم قاره هند (هندوستان، پاکستان و بنگله دیش و سریلانکا) طی این سالها ناآرام باشد، قسمت اعظم قلمرو آسیایی شوروی سابق در نتیجه جهاد مردم افغانستان از پیکرهٔ اتحاد شوروی سابق جدا و به عنوان کشورهای مستقل در نقشه سیاسی جهان غرض وجود نمایند، همچنان ایران، عراق، ترکیه و کشورهای خلیج طی همین مدت با چالش های عدیده ای مواجه باشند و قس علی هذا.

اکنون که در نتیجه کاوش های زمین شناسی ثابت گردیده که علاوه از موقعیت خوب جغرافیایی و ستراتیژیک افغانستان، کشور ما دارای ذخایر سرشار زیر زمینی فلزی و فوسیلی نیز می باشد، امیدواریم که بفرمودهٔ اولیای امور این خبر خوش، مایه گشایش باب تازه ای از یک بحران دیگر در کشور ما نگردد و ملت افغان سالیان دیگری قربانی تهاجم و رقابت کشورهای صنعتی و شرکت های مافیایی کشف ذخایر زیر زمینی نگردد. ای کاش این خبر در شرایطی شایع می گردید که بحران در افغانستان فروکش می کرد و افغان ها با درایت و عقلانیت کامل از نزاع و کشمکش بر سر کسب و یا حفظ قدرت سیاسی دست کشیده و به مشوره و اتفاق همدیگر، پایه های یک دولت ممثل وحدت ملی را که ترجمان افکار، عقاید و آرمان های مردم افغانستان باشد، می گذاشتند.

در شرایطی که هنوز شعله های جنگ در کشور ما مشتعل است و روزانه در هر گوشه و کنار به دهها هموطن ما از هر دو طرف بخاک و خون می غلطند، نیروهای دفاعی و امنیتی بحد خود کفایی نرسیده اند و نیروهای خارجی مسؤولیت حفظ نظم و امنیت کشور ما را بعهده دارند و با دادن تلفات جانی و مالی در مقابله با مخالفین، بر ملت ما منت می گذارند، اعلان خبر موجودیت ذخایر سرشار معدنی افغانستان در چنین وضعیتی چه دردی را مداوا خواهد کرد؟ زیرا کشف، استخراج و بکار بردن منابع زیر زمینی در قدم اول به فضای امن و آرامش نیاز دارد تا انجنیران داخلی و یا خارجی با نفوذ در دل زمین، ذخایر مذکور را برون بیاورند، در قدم دوم استخراج معادن نیازمند پرسونل و متخصص است که کشور ما به نسبت بحران طولانی، ازین نعمت هم محروم است، در قدم سوم صدور و کاربرد درست این منابع است که باز هم کشور ما به نسبت عدم موجودیت فعال اداره سالم به هدف والایش توفیق وصول نخواهد یافت.

باوجود آنکه کاوش های اداره زمین شناسی و وزارت دفاع امریکا به موافقه دولت افغانستان صورت گرفته است، ولی در عین حال جناب حامد کرزی در جریان سفر به کشور جاپان، ضمن سخنانی از گسترش رقابت های آینده دولت ها و شرکت های ذیعلاقه در مورد منابع کشور اظهار نگرانی کرد. روی همین ملحوظ بود که وزیر معادن، انعقاد قراردادها در عرصه کشف و استخراج منابع فلزی و نفتی کشور را با شفافیت و بدون پرده پوشی از دید مردم، مطبوعات و پارلمان توصیف کرد. ولی جناب رئیس جمهور از افزایش رقابت ها بر سر استخراج و صدور این منابع انکار نکرد و اظهار امیدواری نمود که ما بتوانیم قدرت فراهم آوری شرایط مناسب را برای استخراج کنندگان داخلی و خارجی پیدا کنیم تا خدای ناخواسته این ذخایر معدنی انگیزه حضور دراز مدت قوای خارجی و طولانی شدن جنگ در افغانستان نگردد.

محمد خلیل

له قرآن کریم سره زموږ اړیکي

اسلام د الله دین دی. دغه دین یې پخل کتاب قرآن کریم کې وړاندې کړی دی. دا کتاب په دنیا کې د مؤمن تر ټولو اوچته سرمایه ده، د یو مؤمن انسان اړیکی له قرآن کریم سره لاندې پر دریو شیانو دعمل کولو په شرط ترسره کیدای شي:

۱- د قرآن کریم تلاوت: د قرآن کریم له تلاوت نه مراد دهغه لوستل، پر هغه پوهیدل او غور دی.

قرآن کریم د لارښوونې سرچینه ده، یواځې د قرآن له لارې یو انسان کولې شي هغه ژوند ترلاسه کړي چې د الله جل جلاله خوښ دی، یواځې د قرآن په ذریعه کولې شي چې د الله جل جلاله د انعامونو او رحمتونو حقدار وګرځي. کوم انسان چې د قرآن کریم پر هدایاتو عمل وکړي هغه په نیغه لاره روانیږي او د ورږند په خیر اخوا دیخوا دیکی نه خوري، قرآن کریم د حق او باطل ترمنځ د تمیز کولو اوچته ذریعه ده. کوم انسان چې لدینه محروم پاتې شي هغه کله هم د حق او باطل ترمنځ فرق نه شي کولې، قرآن کریم هغه آلهی رڼا ده چې انسان سیده خدای ته رسوي.

یو انسان هله له الله جل جلاله ویریږي چې خپل فکر او خیال د الله تعالی د حکمونو تابع کړي، د هر هغه کار د کولو لپاره چمتو شي چې الله تعالی ورته حکم کړی دی، او له هر هغه کار څخه ډډه وکړي چې الله ورته حرام ویلی دي که څه هم ددې ډیر خوښ وي، کوم انسان چې خپلې غوښتنې او عادات د الله تعالی د حکمونو تابع نه کړي هغه له الله نه ویریدونکی نه دی، د الله کتاب هغه تله ده چې یو انسان دا وربانډې معلومولې شي چې هغه واقعاً د الله تعالی پر لاره روان دی او که د خپل نفس غوښتنې ترسره کوي؟ هر هغه انسان چې د قرآن کریم پرته خپلې چارې پرمخ وړي دهغه مثال د ځنګل د مسافر په څیر دی چې کله هم سمه لاره نه مومي.

قرآن کریم هغه کلي دی چې د الله تعالی د رحمت دروازې وربانډې خلاصیږي، ددې په ذریعه معلومولې شي چې الله له خپل بنده نه څه غواړي؟ د ژوند کوم اصول او آداب دهغه خوښ دي؟ نیکبخت انسان هغه دی چې د الله کتاب لولي او وربانډې غور کوي، دهغه په دماغ او زړه د الله تعالی د حکمونو حکومت وي.

۲- پر قرآن عمل: پر قرآن کریم د ایمان لرلو نښه داده چې د انسان ټول ژوند د قرآن کریم د لارښوونو په چوکاټ کې تیر شي. کوم انسان چې قرانکریم یواځې په ژبه خپل لارښود په توګه ومني مګر پخپلو کړنو کې له هغه نه لارښوونه ترلاسه نه کړي هغه اصلاً په قرآن کریم ملنډې وهي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

د قرآن کریم منونکی خلک هغه دي چې په دې دنیا کې وربانډې عمل کوي. پر قرآن کریم له عمل کولو پرته که څوک آسمان ته هم وخیژي هغه د الله رضا نه شي ترلاسه کولې بلکې هغه څوک د الله تعالی د رضا حقدار ګرځي چې د قرآن کریم د لارښوونو په رڼا کې ژوند ترسره کړي.

د قرآن کریم منوونکو اشخاصو لپاره نه کوم لباس ځانګړی کړی شوې او نه کوم ځانګړی خوراک، بلکې دهغوی د پیژندلو یواځینی

پاتې ٤ مخ

آیا ختم جنگ، رفع فساد اداری و رابطه سالاری شعار است یا حقیقت؟

زبارمل

اگر تاریخ مجاهدت و مقاومت، رزم آوری و استعمار شکنی، تجاوزات و اشغال گریها را در طول تاریخ و در طی حوادث و تحولات سیاسی، نظامی کشور مرور نمایم، بخوبی مدلل می گردیم که قدرت های سلطه خوره جهان بخاطر توجه دادن مداخلات رسیدن به اهداف و مقاصد استراتیژیکی خویش عناوینی را انتخاب نموده و تحت آن حضور نظامی، سیاسی خویش را منصفانه، بشردوستانه، خیر خواهانه و نجات دهنده قلم داد کرده اند و یا هم شعارهای رنگینی و دلخواهی را مطابق ضرورت و نیاز مبرم جامعه بر گزیده، تعمیل و تطبیق آنرا ریاکارانه در جمله اهداف خود بر شمرده اند. تا باشد که ذهنیت عامه و بخصوص طبقه محروم جامعه را زمانی امیدوار سازند. و احساسات آنانرا که از اثر مصائب، مظالم، تخطی ها و بی عدالتی ها جریحه دار شده به بهبود نظام و شرایط حاکم راضی نگهدارند. و در قبال آن به راحتی و بدون مزاحمت به تطبیق اهداف و امیال خویش بپردازند. در حالیکه ملت مسلمان و مجاهد ما آزموده گان تاریخ اند و استعمار کهنه و نو را به هر رنگی که جامه پوشد تشخیص داده می توانند. و آگاهان افغان زمین با درایت و ذیرکی اهداف و مقاصد حال و آیندهٔ به اصطلاح دوستان خوانده و ناخوانده را میدانند و مسؤولانه پرده اوهام را از روی تصورات و دید گاهای متردد مردم بر میدارند. و بهیچ قیمتی روا نمی دارند تا پاک طنیتان و ساده دلان رنج دیده و بلا کشیده شکار شعارهای فریبنده و وعده های عاری از حقیقت، مصروف کننده و یا سر گرم کننده گردند. زیرا مسؤولیت آنانیکه میدانند و یا از اوضاع و احوال سیاسی، اجتماعی درک و برداشت عمیق و مناسب دارند در برابر جمع غفیری که نمی دانند نهایت سنگین، ملی و انسانی است. تا قبل از اینکه در دام گسترده و هم رنگ زمین گیر مانند و فاجعه بار گردند مدبرانه و عاقلانه نجات داده شوند. و این خود مسؤولانی را می خواهد که در دفع و طرز دسایس و توطئه ها متجرب، زیرک و هوشیار باشند. و زمینهٔ نجات را به گونه یی میسر سازد که: "هم لعل بدست آید و هم یار نرنجد " یعنی اقدامات و تلاشهای خردمندانه شان زحمت افزای حالت اجتماعی ما نگردد و زمینه های خنثی ساختن اهداف و پلانهای مملو از حرص و آز زحمت افزایان را از ما نگیرد.

با این توضیح مختصر امروز باید دانست که جامعه جهانی و در رأس امریکا درین دور دوم ریاست جمهوری خواهان خروج قوا مبارزه جدی با فساد اداری و در نهایت ختم جنگ و صلح و ثبات گردید، چقدر به معیارهای مأمول شان موافقت دارد. در حالیکه همه می بینند و توجه دارند که بیانات و اظهارات تا چه حدی با حقایق تناقض دارد و نیات حقیقی چقدر معلوم و روشن است. که حاکمان سرنوشت ما از همان مهره های انتخاب شده دست بردار نیستند. و آیا خاک به چشم زدن و دیده درایی بیشتر ازین خواهد بود که: از یکطرف انتقاد فساد اداری را در نظام از طریق همه وسایل و ذرایع نشراتی به گونه یی سرداده اند که همه مردم ناآگاه ما را مجذوب نیات خود ساخته اند و از جانب دیگر همان مسؤولین را بار دیگر بر ملت مظلوم ما تحمیل میدارند، اگر متصدیان قبلی امور صادق، خدمتگذار، متخصص و معیاری بودند. پس موجب این همه تهدیدات، نارضایتی و تعیین فرصت ۶ ماهه به چه لحاظی و برای چه کسانی بوده است. و آیا افغانستان عزیز با داشتن کمیت ۳۰ ملیونی بجز از چند چهره تکراری شناخته شده دیگر افراد دانشمند متخصص، مجرب، مسلکی، دلسوز و خدمتگذار ندارد. و آیا کالج و مؤسسات تحصیلی، تعلیمی و اداری همه این کشورهای مهمان از شخصیت های علمی و تخصصی ما تا اندازه بهره مند نمی باشد و آیا ما به آنانیکه با عشق سرشار از وطندوستی و احساس عالی خدمتگذاری عاشقانه آرزوی باز گشت به وطن و مرهم گذاری بر پیکر خونین عرصه های فرهنگی، اجتماعی، اقتصادی، عمرانی وغیره را دارند نیاز نداریم؟ و آیا ده ها و صدها انسان متخصص تحصیل یافته، دلسوز و خدمتگذار فراموش شده و بی رابطه در میان اقوام و ملیت های مختلف با هم برادر خود نداریم که متصدی امور مملکت گردند. و آیا میز گردها و نشست های رادیو و تلویزیون به اشتراک عدهٔ از شخصیت های ملی، عقیدتی و فکری دال بر موجودیت چنین شخصیت ها نمی باشد. و صواب نمی دانند تا ازین عده و شمار به امتحان گرفته شود. تا صورت ادعا و حقیقت معلوم گردد. در حالیکه حقیقت روشن و معلوم است و چیز فهمان ما میدانند که اینان با اتکاء به ایمان، تقوا، افغانیت، اصالت و ده ها معیارهای اسلامی، انسانی و ملی نخواسته اند تا با سرنوشت سازان تأمین روابط نمایند و به تطبیق اهداف دیگران تن در دهند. و منتظر آنند تا روزی فرا رسد که به صورت واقعی نه شعار گونه کار به اهل کار سپرده شو. و به وارثین واقعی و متعهد این آب و خاک نیز مجال کار و خدمتگذاری میسر گردد. و این بسته بر آنست تا ملت بصورت یکپارچه و متحد و بدون تبعیض و تعصب شخصیت های معیاری خویش را معرفی و از نصب تعهد کننده گان و گماشتگان انکار ورزند. زیرا دور از عدالت و انصاف است که ملتی با هم فهم و راست، قربانی و جانبازی، جهاد و فداکاری به غاصبان قدرت تن در دهند و بی نوبتی را در آسیاب پدر متحمل شوند، و این خود هم برگزیده گی های تاریخی و ملی ما را تحت سوال می برد و لازم است تا حاکمان قدرت وعده تجدید را عملی سازند و اصرار در تداوم وضع کنونی بیش از پیش زیان آور ور تنش تر خواهد گردید و خدعه و فریب به سود مخالفین نظام و بی ثباتی بیشتر بوده و خواهد بود. پس در پایان مصلحت و مشوره همه اهل نظر و دوستداران امنیت سرتاسری و صلح و ثبات این آب و خاک اینست تا به افراد و اشخاص ذیحق و معیاری دیگر و یا آنانیکه صداقت، تقوا، ایمان داری و پلانهای علمی و تخصصی خویش را مرعی الاجرا قرار داده افق گشا در آسمان زمرالدین کشور گردند.

(ومن الله التوفیق)

ولې مو اسلام ومانه؟

ژباړه: محمد خلیل

پخوانی نوم: لارډ برنټن - اوسنی نوم: جلال الدین

پخوانی دین: عیسویت - اوسنی دین: اسلام

عیسویت ماته مشکوک ښکاره شو

د عیسویت عقیده دومره مکروه وه چې ما ترینه کرکه کاوه

زما پخوانی نوم لارډ برنټن و، زه د انګلیستان د یوې مالداری کورنی غړی وم، په ټولنه کې زموږ ډېر قدر او عزت و، زما مور او پلار عیسویان وو، هغوی غوښتل چې له مانه لوی پادري جوړ کړي، ما د عیسویت درسونه وویل او له فارغیدو وروسته د چرچ آف انګلینډ غړې شوم، خو کله هم زما په زړه کې د عیسویت دین ځای ونه نیو، هر وخت مې فکر کاو چې دا د الله تعالی دین نشي کیدلی. په ځانګړی توګه د عیسویت دغې نظریې ډېر حیران کړی وم چې انسان ازلي ګنهګار دی، د څو محدودو اشخاصو پرته به نور ټول انسانان په دوزخ کې وي نو ځکه د وخت په تېریدو د عیسویت دین زما له زړه نه بالکل ووت او زه بې دینه شوم.

ما هر وخت فکر کاو چې انسان د کائناتو اشرف او عزت من مخلوق دی دا د الله شاهکار دی ددې په څېر عزت من مخلوق د کائناتو په سر نه لیدل کیږي نو بیا څنګه کیدلې شي چې همدا اشرف مخلوق دی د جهنم په اور کې همیشه له پاره وسوځیږي، دا خو پر الله لوی تهمت دی چې هغه خپل اشرف ترین مخلوق د جهنم د اور له پاره پیدا کړي دی.

که څه هم ما په موهوم ډول د الله پر ذات یقین درلود او بشپړ انکار مې نه کاو خو دیته نږدې شوی وم چې د الله له ذات نه هم منکر شم. دا د الله لورینه وه چې دهغه د معرفت د ترلاسه کولو له پاره مې د نورو مذهبونو مطالعه شروع کړه.

کله مې چې د اسلام دین لوستل پیل کړ نو دا حقیقت زما زړه ته پرې وت چې د اسلام دین انساني فطرت ته نژدې دی، زما شکونه ورځ په ورځ په کمیدو شول او دې نتیجې ته ورسیدم چې بند ګي او عبادت یواځې او یواځې د یو الله پکار دی.

د اسلام د سپیڅلی دین له مطالعې وروسته مې دا عقیده قوي شوه چې د عیسویانو کتاب بایبل کې زبردست تحریف او لاسوهنې شوي دي او دا پخپل اصل حالت کې نه دی پاتې شوې، په دې کې خلکو له خپل ځانه جوړ شوي عقائد دننه کړي او دایې عیسی علیه السلام ته منسوب کړي دي.

د اسلام د مطالعی په ترڅ کې مې دا واقعیت ترلاسه کړ چې په انسانانو کې د روح په نوم یو څیز دی چې نه لیدل کیږي، دا داسې قوت دی چې کله هم نه مري.

د ګناهونو سزا په دې دنیا کې هم خلکو ته ورکول کیږي او آخرت کې هم، که انسان د زړه له کومې الله ته توبه وباسي او له ګناهونو څخه لاس په سر شي نو لوی او مهربان الله دهغه ګناهونه بخښي.

ما خپل ټول وخت یواځې د اسلام د مطالعې له پاره وقف کړ او ډېر هغه څه مې ترلاسه کړ چې زه یې په لټه کې وم، له اسلام سره مې مینه ډېره زیاته شوه او دغې مینې زه د پاکستان لاهور ته ورسولم، هلته په یوه لیرې پرته سیمه کې مې ډیره واچوله، دهغې سیمې اوسیدونکي مسلمانان وو، له هغوی سره مې ناسته ولاړه کاو، هغوی ډېر زیات زیار کښ او غریب کار خلک وو، خو ډېر قانع او صابر وو، دهغوی په وچولو کې به د سکون او خوښی نښې ځلیدلې، ما له هغوی نه د اسلام عملي سبق ترلاسه کړ، ددوی په منځ کې چې د دینداری، خلوص، مینې او ورورولی کومه فضا وه هغه زما لپاره ډېره زړه راښکونکې وه. تر دې دمه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم د شخصیت او دهغه سیرت په باره کې هېڅ ډول معلومات نه درلودل، دومره پوهېدم چې عیسویان د محمد صلی الله علیه وسلم ډېر سخت مخالف دي او وربانډې بې ځای تنقیدونه کوي، ما د محمد صلی الله علیه وسلم د شخصیت او دهغه د سیرت په اړه مطالعه شروع کړه او ډېر ژر زما زړه ګواهي ورکړه چې محمد صلی الله علیه وسلم د حق او صداقت ځلیدونکی ځلی دی، پر ګرد انسانیت دهغه صلی الله علیه وسلم دومره لوی احسانونه او لوریني دي چې له هغو نه ستر ګې پټول لویه ګناه ده.

هغه خلک چې د داړونکو ځناورو په څېر ظالمان وو، د انسانیت هېڅ قد او قیمت نه پیژندل، د جرمونو او ګناهونو په دنډ کې غرق وو، لاسونه یې د انسانانو په وینو سره وو، د الله له ذاته پرته بتانو ته سجدې کولې او هر څه یې له هغوی نه غوښتل، محمد صلی الله علیه وسلم هغوی ته د انسانیت درس ورکړ، د ګناهونو له ډنډ نه یې وویستل د بتانو له عبادت نه یې د یو الله عبادت ته راوبلل او دیته یې چمتو کړل چې یواځې د یو الله بندګي او طاعت وکړي، دهغه جل جلاله په ذات او صفات کې بل څوک شریک ونه ګرځوي.

د محمد صلی الله علیه وسلم سیرت او اخلاق دومره ښکلي او په زړه پورې و چې دهغه مثال نه تر ستر ګو کیږي، مګر بیا هم پر هغه صلی الله علیه وسلم د عیسویانو تنقید له ظلم او حسد نه پرته بل هیڅ معنی نه لري، نو ځکه د عیسویانو په خلاف مې کرکه ورځ تر ورځې زیاتیده او له ځانه مې پوښتنه کوله چې عیسویان داسې ولې کوي؟ !

یوه ورځ له یو قابل مسلمان سره زما لیده کاته وشوه، د اسلام په اړه مې ورسره خبرې اترې وشوې، هغه زما د هرې پوښتنې مدلل ځواب راکړ، زما پاتې ټول شکونه یې لیرې او زه په دې خبره بشپړ ډاډمن شوم چې اسلام یواځینی حق دین دی او یواځې د همدې دین په منلو انسانیت د امن او سکون ژوند خاوندان کیدلې شي، نو ځکه سمدلاسه مې د وخت له ضایع کولو پرته د اسلام د سپیڅلی دین د منلو کلک هوډ وکړ او مسلمان شوم الحمدلله زه اوس مسلمان یم، د اسلام له روحانی نعمتونو څخه برخمن یم، اوس زما په زړه کې هیڅ ډول شکوک او شبهات نشته، په پوره شوق او ذوق د الله بند ګي کوم، د قرآن کریم او نبوي ارشاداتو په سیوری کې ژوند تیرول ماته سکون او خوښي رابخښي، نو ځکه ما کلک عزم کړی دی چې ان شاء الله نور انسانان به هم د اسلام سپیڅلی دین ته رابلم او ددې لوی نعمت څخه به هغوی برخمن کوم.

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیا ل مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
داړیکې شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
ډیزاین: خواجه وحیدالله
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې
آدرس: دحزب اسلامي دفتر
سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

ناټو: د هالنډي ځواکونو وتل به زمونږ په ماموریت کومه اغیزه ونه کړي

افغان دولت او په کابل کې د ناټو ځواکونو چارواکي وایي، چې له افغانستان څخه د هالنډي ځواکونو وتل به په دغه هېواد کې د نړېوالو ځواکونو په ماموریت کومه اغیزه ونه کړي. څه کم دوه زرو هالنډي ځواکونو چې له تېرو څلورو کلونو راهیسې په ارزګان ولایت کې میشته و، (د یکشنبې په ورځ) له افغانستان څخه وتل پیل کړل.

که څه هم له افغانستان څخه د هالنډي ځواکونو وتل زیاترو عامو افغانانو ته ښایي یوه جدي پېښه و اوسي، خو افغان دولت او د ناټو ځواکونو چارواکي په دې باور دي چې په افغانستان کې به د نړېوالو ځواکونو په ماموریت کومه اغیزه ونه کړي.

د افغانستان د جمهوري ریاست چارواکي وایي چې افغان دولت په ارزګان ولایت کې د خپل ماموریت په دوران کې د هالنډي ځواکونو له قربانیو او مرستو مننه او ستاینه کوي.

د افغانستان د ولسمشر د ویاند مرستیال حامد علمي له ازادی راډیو سره په خبرو کې وویل، چې افغان دولت په دې باور دی چې د هالنډیانو په شان به نور ټول بهرني ځواکونه له افغانستانه یوه ورځ وځي او امنیتي مسئولیتونه به افغان ځواکونه پر غاړه اخلي.

هالنډ په افغانستان کې څه کم دوه زره سرتېري لري، چې له تېرو څلورو کلونو راهیسې په ارزګان ولایت کې له استرالیایي ځواکونو سره ګډ میشت وو.

دوی له پوځي چارو سربېره په ارزګان ولایت کې د بیارغونې یو لړ پروژې هم پر مخ وړلې، خو هالنډیانو په افغانستان کې د خپل ماموریت په څلورو کلونو کې د څینو نورو هېوادونو په پرتله لږ تلفات لیدلي دي.

چارواکي یې وایي، څلورویشت ته یې وژل شوي و او له سلو یې ډېر ټپیان شوي دي، ښایي د دوی د کمو تلفاتو اساسي علت به دا وه چې د ارزګان د چارواکو په وینا په جګړو کې یې ډېره برخه نه اخیستله.

په کابل کې د ناټو ځواکونو ویاند جوزف بلاتس هم وایي چې د هالنډي ځواکونو وتل په د دغه سازمان په پوځي ماموریت کومه اغیزه ونه کړي.

هغه په یوه خبري کنفرانس کې وویل، چې په افغانستان کې د افغان او بهرنیو ځواکونو شمېر ورځ تر بلې ډېرېږي او د هغوي ځای به خالي نه پاتې کیږي:

هالنډي ځواکونه له افغانستانه د وتلو په حالت کې

"د ایساف او د افغان ملي امنیتي ځواکونو عمومي شمېر په زیاتیدو دی. موږ له مخکې خپل پوره ځواکونه لرو، موږ د دې ظرفیتونه لرو چې ډاډمنه کړې، ارزګان به یوازې نه پاتې کیږي.

د ارزګان ګډه قومندانی به په دغه ولایت کې مسئولیت پرغاړه واخلي، په دې قومنداني کې د بېلابېلو هېوادونو لږ او ډېر ځواکونه شامل دي. "

یو شمېر نور هېوادونه هم له افغانستان څخه د خپلو ځواکونو د ایستلو خبره کوي، کانادا ویلي چې راتلونکی کال به خپل سرتېري له افغانستانه وباسي، په ورپسې کال کې پولنډ له افغانستان څخه د خپلوسرتېرو د ستنولو هوډ لري.

د امریکا متحده ایالاتو هم د راتلونکي میلادي کال د جولای میاشت له افغانستان څخه د خپلو ځواکونو د ایستلو د پیل نېټه اعلان کړې.

که څه هم افغان دولت ډاډ ځرګند کړی چې ځواکونه به یې تر دوه زرو څوارلسم کال پورې له بهرنیو ځواکونو څخه د بشپړ امنیتي مسئولیت اخیستلو جوګه وي، خو د افغان ځواکونو اوسني وضعیت ته په کتو سره په عمل کې د دغې چارې ترسره کېدل اسانه نه بریښي.

د خوشه يي مهماتو د منعه کولو له کنوانسیون سره د افغانستان یوځای کېدل

آزادي راډیو:

افغان حکومت دې ته چمتو دی چې د کلستر یا خوشه یي مهماتو د بندولو د کنوانسیون غړی شي. د افغان چارواکو په باور دوی له څو کلونو راهیسې بېلابېلو سازمانونو ته ورانديز کړی چې د خوشه یې مهماتو او بمونو د نه کارولو تړون تصویب کړي او افغانستان هم د دې تړون لاسلیکولو ته تیار دی.

په افغانستان کې د درنو او ډېرو تلفات لرونکو وسلو د نه کارولو د هڅو په لړکې افغان حکومت غواړي چې د خوشه یې مهماتو او بمونو د بندولو له نړېوال کنوانسیون سره یوځای شي.

د کلستر یا خوشه یې بمونو د منعې کولو کنوانسیون د روان کال د زمري په لسمه نېټه د خوشه یې مهماتو د نه کارولو، نه تولید، نه زیرمه ډیکولو او نه انتقالولو تړون لاسلیک کړ.

افغان حکومتي چارواکي وایي، چې دا تړون ډېرمهم او ګټور دی او افغانستان ډېرې هلې ځلې کوي چې د خوشه یې بمونو د نه کارولو د کنوانسیون غړی شي.

د ولسمشر کرزي یوه ویاند سیامک هروي د دوشنبې په ورځ ازادی راډیو ته وویل، چې په تېرو کلونو کې په افغانستان کې خوشه یې بمونه کارول شوي خو اوس مهال افغان حکومت دا ډول مهمات نه لري:

"افغان حکومت نه خوشه یې بمونه لري او نه یې هم کارولي دي، که چېرې ناټو ځواکونه دا ډول بمونه ولري زموږغوښتنه ترې دا ده چې نه دي کاروي. "

د خوشه یې بمونو په نه کارولو په دوه زره اتم میلادي کال کې موافقه شوې وه او تر اوسه د نړی سل هېوادونو دا تړون لاسلیک کړی دی، تاکل شوې چې دا تړون له تصویب نه شپږ میاشتې وروسته د ډېرشو هېوادونو د پارلمانونو له خوا تایید اوعملي شي.

راپورونه وایي، چې د روان کال دعقرب یا لړم په میاشت کې به د خوشه یې بمونوغړي هېوادونه د دې تړون د عملي کولو په څرنګوالي د بحث لپاره په لاووس کې سره راټول شي او افغانستان به په دې غونډه کې د څارونکې په توګه برخه واخلي.

په عین حال کې افغان پوځي کتونکي وایي چې د خوشه یې بمونو د نه کارولو له کنوانسیون سره د افغانستان یوځای کېدل ځانګړې اهمیت او ارزښت لري.

د پوځي چارو کارپوه جنرال امرالله امان هم همدې ټکي ته په اشاره وایي چې افغان حکومت باید د دې تړون په لاسلیکولو کې بیړه وکړي.

د سره صلیب نړېوالې کمېټې هم تېره ورځ د یوې اعلامیې په خپرولوسره له افغان حکومت نه غوښتي وو چې له دې کنوانسیون سره یوځای شي او د خوشه یې بمونو د نه کارولو او نه تولید تړون لاسلیک کړي.

کار پوهان وایي چې په افغانستان کې میشت بهرني ځواکونه ښایي خوشه یې بمونه ولري څکه چې داسې راپورونه هم خپاره شوې چې نړېوالو ځواکونو په دې هېواد کې له خوشه یې بمونو او لایزري او کیمیاوي موادو څخه کار اخیستی دی.

کلستریا خوشه یې بمونه کله چې استعمالیږي په سلګونو نور واړه بمونه تولیدوي او پراخه سیمه تر پوښښ لاندې راولي ویل کیږي چې دا ډول بمونه په افغانستان کې د پخواني شوروي اتحاد د یرغل په مهال وکارول شول او افغانانو ته یې ډېر تلفات هم واړول.

ویل شوي چې د نړی ځواکمنو هېوادونو لکه روسیې، چین او د امریکا متحده ایالات او دغه راز هند، اسرایل او پاکستان د خوشه یې بمونو د نه کارولو او نه تولید له تړون څخه ملاتړ نه دی کړی.

امریکا او نورو متحدینو په دې ایالت کې تر اوسه هېڅ ډول عملي اقدام نه دی کړی.

امریکا او ناټو په افغانستان کې ۱۵۰زره عسکر لري، هالنډي ځواکونه لومړني هغه دي چې له افغانستانه یې وتل پیل کړل، کاناډا ویلي چې راروان میلادي کال به خپل ۲۸۰۰ عسکر له افغانستانه وباسي.

افغانستان طولانی ترین جنگی است ...

چهارم جولای سربازان امریکایی روز استقلال کشور خود از یک نیروی بیگانه را در حالې جشن می گرفتند که با انواع سلاح ها دوران اشغالگري در افغانستان را پشت سر مي گذاشتند.

مارگولیس می افزاید: در برابر تسلیحات بسیار پیشرفته‌ای که امریکایی ها و هم پیمانان غربي آنها در افغانستان به کار گرفته و در اختیار دارند، تعداد بي شماري مردان قبایل و کشاورزان پشتون با سلاح‌هایي بسیار ابتدایي اما با شجاعتي مثال‌زدني توانسته‌اند در برابر غرب مقاومت کنند.

کشورهاي غربي حتي اگر در چنین جنگي پیروز هم بشوند نباید بدان افتخار کنند. این جنگ از همان دست جنگ‌هاي استعماري علیه مردمي عقب‌مانده با هدف کنترول بر منابع سرزمیني و مناطق سوق‌الجیشي است.

وي هم‌چنین مي‌افزاید: بیشتر افغان‌ها ۳۰ سال است که در آرزوی صلح به سر می برند. تلاش‌های دولت "حامد کرزي "، جنبش طالبان و دولت پاکستان براي دست یابي به صلح همواره به وسیله واشنگتن، اوتاوا و تاجیکستان ناکام مي‌ماند. هندوستان هم درست هر زمان که کشمیر دچار اغتشاش مي‌شود به تلافي دیگ اغتشاشات را در افغانستان گرم می کند.

وي در پایان تاکید کرد: این جنگ بي‌هدف و زشت هرگز به پیروزي منجر نخواهد شد اما رویکرد امپریالیستي آمریکا همواره بر جاي خود باقي است. "شاید کوه‌هاي افغانستان واترلویی برای ناتو باشند. "

امریکا پر ایران برید ته تیار ...

په ملګرو ملتو کې د ایران استازي محمد خزاعي وایي که چیرته اسراییل پر ایران حمله وکړي نو تل ابیب به د اور په لمبو کې وسوځوي.

محمد خزاعي دا خبرې د ایران په شمال ختیځ کې د کاشمر په ښار کې وروسته تر دې وکړې چې تر دې مخکې د اسراییل دفاع وزیر ایهود باراک ویلي و چې د ملګرو ملتو بندیزونه ایران نه شي اړایستی چې د یوارنیمو له غني کولو لاس واخلي نو که چیرته بندیزونو کار و نه کړ له خپلو ملاتړیو به وغواړو چې خامخا یو څه وکړي څو ایران د اتومي وسلو له ترلاسه کولو راوګرځوي.

افغانستان به کابوس نیروهای ناتو ...

پیش تاکنون کشورهای عضو پیمان اتلانتیک شمالی (ناتو) قصد داشتند تا اختیار افغانستان را در دست بگیرند. در طول این سال ها اهداف کشورهاي عضو ناتو مرتب تغییر کرده اما آنچه مسلم است این است که این نیروها دستاوردی نداشته‌اند. به عبارتی باید گفت موفقیت‌ها در پی کنفرانس های بزرگ افغانستان در برلین، پاریس، لندن و کابل کاهش یافته و در مقابل فهرست مشکلات این کشور روند صعودی داشته است.

بر اساس این گزارش، در حال حاضر قابلیت

انجام عملیات‌های تروریستی در افغانستان کمتر از حملات ۱۱ سپتامبر ۲۰۰۱ نشده است و مسایل به صورتی در آمده که تعیین زمانی قطعی برای خروج نیروهای نظامی نیز به تاخیر افتاده است.

همچنین پس از انگلیس و اتحاد جماهیر شوروی سابق حال نوبت نیروهای ناتو و سازمان ملل متحد است که اعتبار خود را در افغانستان از دست دهند و در شرایط فعلی هیچ راهکار نظامی و سیاسی را نمی توان برای برون رفت از وضعیت موجود پیشنهاد کرد. از طرفی راهبرد همیشگی "کمک هر چه بیشتر "نیز به بن‌بست رسیده است.

اشپیگل در بخش دیگری از این گزارش با اشاره به سخنان "مارگوت کسمان "اسقف آلمانی مبنی بر اینکه هیچ چیز خوشایندی در افغانستان وجود ندارد، ضمن تائید این اظهارات، از افغانستان به عنوان کابوس نیروهای خارجي نام برد و آن را گورستان قدرت‌های بزرگ نامید.

له قرآن کریم سره زمونږ...

لاره داده چې د الله تعالی کتاب پر خپل ځان حکم ګرځولی وي دهغه هر کار د قرآنکریم د احکامو او ارشاداتو په رڼا کې ترسره کیږي پر کوم انسان چې د الله د کتاب حکومت نه وي قائم هغه له خدای نه، او خدای له هغه نه لرې دی.

۳- د قرآن کریم په لور بلنه: قرآن کریم یو دعوت او بلنه ده، دا چې یو ځل د هر چا په زړه کې دننه شي دهغه په وجود کې زبردست انقلاب راولي، خپل مخکینی فکر او عقیده پرېږدي او پر ځای د قرآني نظریاتو کلا جوړوي.

په دې دنیا کې هغه انسان تر ټولو بریالی دی چې پخپله هم د قرآن کریم اتباع وکړي او نورو ته هم ددې د اتباع بلنه ورکړي څکه چې د قرآنکریم اتباع په حقیقت کې د الله تعالی تابعداري دی.

قرآن کریم د عزت او سرلوړی ذریعه ده، هر څوک چې پخپله هم په قرآن کریم عمل کوي او بل چاته هم وربانديې د عمل کولو بلنه ورکوي هغه پخپله هم د برې لاره وهي او نورو ته هم د برې لاره ښيي. هغه کله هم دا فکر نه کوي چې هغه خپل قابلیت او قوت بې ځای مصرف کړیدی بلکې هغه تل خوښ وي چې هغه د نیکی په کارونو کې خپل وخت لګولی او په دې توګه د الله تعالی خوښي یې ترلاسه کړی دي.

د ولسمشر سلاکار وزیر وحیدالله ...

کې وم اودس مې کوو، چې درز مې واورېده راووتم، خلک لګیاول له موټر نه یې زخمیان راوېستل، د یو تن لاس نه و، بل چې بایسکل سره پروت و پښې یې نه وې، یو سپین ږیرې یې له موټره راکوز کړ، بدن یې ټول په چرو لګېدلی و.

بل پلو د وسله والو طالبانو یوه تن، چې ځان یې د قاري ذکرالله په نامه د تورې بوړې د یوه قوماندان په توګه راپېژنده ازادی راډیو ته وویل:

برید د دوی ملګرو کړی، نوموړي دغه راز د دوشنبې په شپه د چپرهار ولسوالی د ډاکو په پوځي بېز د برید خبره هم وکړه، چې دده په قول په کې ګڼ دولتي سرتېري وژل شوي؛ خو چارواکو په دې اړه تر اوسه څه نه دي ویلي.

د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد د دې پېښې مسولیت منلی او ادعا یې کړې چې د وحیدالله سباون په ګډون ۱۴ تنه نور هم ټپیان کړي خوافغان چارواکو د دوي ادعا رد کړې.

اوباما: که پوی شم چې مونږ ...

ځای شوي.

ځینې دا هم وایي چې شاید بارک اوباما په دې توګه غوښتل چې په افغانستان کې د وسله والو طالبانو مشرتابة او ملاتړو ته یې پیغام ورکړي چې تربګنې یې ورسره د کانې کرښه نه ده.

د سیاسي چارو شنونکي دا هم وایي چې د افغان حکومت او امریکا له لورې وسله والو طالبانو ته نرم پیغامونه او تر پخوا پوست دریځ ناپایه نه دی.

د دوی په وینا وسله وال طالبان باید له دغې موقع ګټه واخلي او خپله هم نرمه غاړه ومني.

امریکا په افغانستان کې د هدفي ...

هدفي وژنو ستراتیژي ولې په بلوچستان کې نه عملي کېږي، چې اکثره طالبان او د هغوی مشران په کې فعال دي، کارپوهان وایي